## د حیواني علومو ځانګې د آمر پیغام

### پوهنیار عبدالمجید بنډارخېل

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

ځرنګه چې لوړې زده کړې د یو هیواد له مهمو او مبرمو ضرورتونو څخه ګڼل کیږي، نو په همدې اساس د هیواد خود کفایي او ځان بساینې ته رسیدل بدون د لوړو زده کړو څخه ناشوني دي. ځوان تحصیل یافته، په مسلکي او تخنیکي پوهه سمبال قشر د یوې متمدنې ټولنې او هیواد د ملاتیر ده، همدا بشري او د پرمختللي علم په زیور سمبال بشري نیرو کولای شي چې د هیواد لویې ستونزې او د پرمختګ په لار کې ولاړ خنډونه په پوره توانایي سره له منځه یوسي. پوهنتونونه د همدې سترو موخو د تحقق په پار یواځیني مرکزونه دي چې لمړیتوب او رسالت یې د لوړو زده کړو وړاندې کول، علمي تحقیقاتو او تالیفاتو تر سره کول دي. پوهنځي او ځانګې د پوهنتون په تخصصي برخو کې د زده کړو او خدماتو د وړاندې کولو سرچینې دي، او عمده هدف یې د پوهنتون د ماموریت او لرلید ته کار کول دي. کرنیز سکتور د ګران هیواد افغانستان د اقتصاد اساس ګڼل کیږي، افغانستان یو کرنیز هیواد ده چې تر ۷۵ سلنه وګړي یې په کرنه او مالداري مشغول دي، د دې لپاره چې مالداري له عنعنوي او دودیزي روزنې څخه عصري یا پرمختللي روزنې ته بدله شي، له في واحد حیوان څخه زیات عاید په لاس راشي او د مالداري په سکتور کې شته ناخوالې له منځه یوسي. د حیواني علومو ځانګه تل کوشش کوي تر څو د تدریس تر څنګ د علمي تحقیقاتو په اساس د هیواد او سیمې په کچه د ستونزو په حلولو کې کلیدي رول ولوبوي او همدا چاره تر ډیره بریده د له اړونده ذیربط ریاستونو سره په پوره تفاهم سره تر سره شوې ده، چې اړوند تحقیقات یې د مالداري روزنې په برخه کې تر سره کړي دي او د خپلو عملي او تحقیقاتي څېړنو پایلې یې د پوهنځي ریاست له لارې له اړونده ریاستونو سره شریکې کړي دي. د حیواني علومو ځانګه د کرنې پوهنځی په چوکاټ کې له مخکښ دیپارټمنټ څخه شمیرل کیږي چې د پوهنځی او پوهنتون په کچه په زیاته اندازه تحقیقات، مجهز تدریسي تعمیر، لوړ رتبه استادان او همدارنګه یو باب د غوښینو چرګورو تحقیقاتي فارم لري. چې استادان او محصلان د عملي څیړنو په پار ترې استفاده کوي.



## حیواني علومو ځانګې د منشي پیغام

### پوهنیار میاخان محمدي

د لوی څښتن تعالی په سپېڅلي او مقدس نامه!
قدرمنو هېوادوالو!

د یوه هېواد هر اړخیز پېشرفت او ترقي د هغه ملت د وګړو په اسلامي فکر او د متخصصو، مسلکي او ژمنو افرادو په درلودو پورې اړه لري.

زه په خپلو هیوادوالو له دې ځایه غږ کوم چې نور د یو او بل له ځپلو څخه باید لاس په سر شو او د هیواد د هر اړخیز پرمختګ لپاره لاسونه را بډ وهو، هیواد مو د علم، څېړنو او پرمختګونو په برخه کې له نورې نړۍ سره سیال او پر ځان بسیا کړو، راځئ چې ددې سپېڅلي نظام په ساتنه او دوام کې له هر چا مخکې شو او د موجوده امن، فرصت او امکاناتو څخه اعظمي استفاده وکړو او دا د ځان لپاره یو ښه چانس وګڼو، دا نظام هم د نړۍ د نورو نظامونو په څېر متخصصینو، مسلکي او باتجربه شخصیتونو ته اړتیا لري او دا خلک همدا زمونږ او ستاسو ځوان تعلیمي قشر ده چې له علمي او عملي زده کړو څخه وروسته کولای شي په خپل اخلاص او زحمت سره دې هیواد ته هر اړخیزه ښکلا ورکړې.

## سریزه

په هر هیواد او سیمه کې چې بشري ټولنه ژوند لري د خپل ژوند د سطحې د لوړولو، پراختیا او معیاري کولو لپاره انســـان مجبور ده چې د خپل ماحول او په ســیمه کې د شــته منابعو د پیژندلو، اســتعمالولو او هغوی څخه معقوله استفاده کول بشري تقاضا ایجابوي. ځرنګه چې د کرنې او مالداري ســکتور د هیواد له مهمو ســکتورونو څخه شــمیرل کیږي، او د هیواد زیاتره وګړو معشـــیت له همدې لارې څخه تامینیږي. نو د حیواني علومو ځانګې اســـاسي رســـالت د حیواناتو روزنې په برخه کې د ماهرینو، محقیقینو او په ټوله کې د یوې منظمې او مسلکې بشري نیرو روزل دي. تر څو د هیواد مالداري ســـکتور د دودیز او عنعنوي جبر او رواج له زولنو خلاص شي، او د عصري او پرمختللي سیسـتمونو په ترویج سره د هیواد مالداري وضــیعت بهتر شي، چې دا چاره تر ډیره بریده د یوې ښې بشري نیرو سره سره د نویو او معاصرو تکنالوژیو په کارولو سره شـــونې ده، د حیواني علومو ځانګه د پورتنیو اهدافو د تحقق او په مالداري روزنې برخه کې د ځان بســـاینې لپاره په پوره ژمنتیا سره د یو مجرب او محقق ټیم پواسطه مټې را نغښتې دي.

### د تاسیس کال

۱۳۹۳ هجري شمسي

# لـوړو زده کــړو وزارت
# پکتیکــــا د لوړو زده کړو مؤسسه
# کرنې پوهنځی
# د حیواني علومو څانګه

## تاریخچه

حیواني علومو څانګې په ۱۳۹۳ ل ل. کال کې د کرنې پوهنځي په چوکاټ کې خپل فعالیت پیل کړ. یادې څانګې لمړۍ دوره فارغین په ۱۳۹۶ کال کې ورکړي او تر دې دمه یې ۲۴۰ تنه مسلکي اشخاص ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

## لیدلوری

د حیواني علومو څانګه به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې حیواناتو روزنې، تغذیې، نسل اصلاح، حیواني محصولاتو پروسیس او ساتنې په برخه کې د پوهو، ژمن او مسلکي اشخاصو په روزلو سره د هیواد په کچه سیال او با کیفیته څانګه وي.

## ماموریت

د حیواني علومو څانګه د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او باکیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.


majeedbandarkhil123@gmail.com

0093(0)771504904

پکتیکا پوهنتون د کرنې پوهنځی دحیواني علومو څانګه


## ارزښتونه

1. ټول اسلامي او ملي ارزښتونه په پام کې نیول؛
2. حساب ورکوونه؛
3. مسلک ته ژمنتیا؛
4. صداقت او ریښتینولي؛
5. له منطقوي، نژادي، قومي، ژبني او مذهبي تعصب څخه لریوالی؛
6. مسلکیتوب؛
7. د ځواب ورکوونې توانايي؛
8. د همکارۍ او همغږۍ پیاوړي روحیه؛


## موخې

1. په اسلامي، ملي او مسلکي روحیه د محصلانو روزل.
2. د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژیو او لوړو وزارت د قوانینو، لوایحو او طرزالعملونو سره سم د حیواني علومو اړوند مسلکي پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترویجول.
3. محصلانو ته د حیواناتو د روزنې، حیواني محصولاتو تولید، پروسیس، ذخیره او بازار موندنې په برخو کې کافي معلومات ارایه کول او په ورځنې ژوند کې تطبیقول.
4. محصلانو ته د مالداري سکتور په برخه کې د خامو موادو د برابرولو او مالدارانو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارایه کول.
5. محصلین به د فراغت څخه وروسته د ټولنې په مختلفو برخو او د کار په بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د تولید توانايي ولري.
6. برحال محصلینو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لارښوونه او انګیزه ورکول؛
7. د پوهنځي موخې تعقیبول.

## کمېټې




دځانګې تشکیلاتي چارت




## امکانات

- په الکترونیکي تجهیزاتو سمبال درسي ټولګي؛
- د منظم کتابتون شتون؛
- د اوبو، برېښنا او انټرنیټ کافي امکانات؛
- مسلکي، متخصص او لوړ رتبه استادانو شتون؛
- د چرګانو څېړنیز فارمونه.